اوونیزه
معارف
هفته نامه
۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر آیندهٔ کشور است
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۳۳ ماه جوزا سال ۱۳۹۷

## سرپرست وزارت معارف با سفیر کشور ترکیه دیدار و ملاقات نمودند



جلالتماب داکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با آقای اوگوژان اردگرول سفیرکشور دوست ترکیه دیدار کرده و روی بهبود وضعیت نظام معارف افغانستان، وهمکاری های کشور ترکیه صحبت کردند، محترم سرپرست وزارت معارف از کمک های کشور ترکیه که در عرصه بهبود کیفیت معارف نموده اند قدردانی نموده اضافه نمودند...

ص۲

سرمقاله:

## اختر مسلمانان سولې ته رابولي

په نړۍ کې زیات شمیر خلک ژوند کوي ، د هردین، فرهنګ او کلتور خلک دخان لپاره دخوښۍ او خوشحالۍ ځانګړې ورځې او مراسم لري چې د هغوله خواپه بیلابیلو بڼو اودودونو سره نمانځل کیږي ؛ خومسلمانان په کال کې دخوښۍ دوه ورځې لری چې هغه ته (عید ) یا اختر وایي ،دغه دواړه ورځې د اسلام په مقدس دین کې ډیر زیاد قدسیت لري په تیره کوچنی اختریا ( عید سعید فطر) او دغه ښې شپې اوورځې د مسلمانولپاره د الله (ج)له لوري دخیراو ښیګڼې یوه ډیره ښه تحفه او ډالۍ ده .

د اختر په ورځو کې مسلمانان یوبل ته داخلاص او صداقت غیږې پرانیزي، د اختریا عید دفلسفی اصلی موخه اوهدف هم همدا دی چې مسلمانان باید خوابدي ، دښمني اوتربګني چې په خپلو منځونو کې یې لري پریږدي؛ سولې، ورورۍ او یووالي ته مخه کړي ، یوموټی او یولاس شي ،څو دمسلمانانو او اسلام دښمنان پدې ونه توانیږي چې دمسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي واچوي او دهغو په بیلولو سره اسلام اخوت او ورورۍ ته زیان واړوي اواسلامي تهذ یب تر خپل سیوري لاندې راولي ، مسلمانان دیو دین او مذهب لارویان دی پکار ده چې زموږ دهیواد او خاورې د دښمنانو په توطعو او دسیسو ونه غولیږي او د اسلام د مقدس دین احکامونه او ارکانونه ته په مراجعه کولو سره په خپلو منځو کې سولې او امن ته کار وکړي او په خپل هیواد کې د سولې او امنیت په راوستلو د هیواد د بچیانو د ښوونې لپاره زمینه برابره کړي، تیر شوی اختر د افغانستان دخلکو لپاره ډیر بختور وو ځکه چې په تیر اختر کې د افغانستان د اسلامی جمهوریت د جمهوری رئیس جلالتمآب محمد اشرف غنی په نوښت د اوربند په اعلانولو سره چې وروسته د افغانستان د حکومت د مخالفینو له لوری هم بدرګه شو په هیواد کې د وینو تویيدو مخه ونیول شوه...

ص۲

# پیام جلالتمآب وزیر معارف به مناسبت فرارسیدن عید سعید فطر



جای نهایت خوشی و مسرت است که به مناسبت فرارسیدن عید سعید فطر صمیمانه ترین تبریکات خود و رهبری وزارت معارف را باخلوص نیک و اخوت اسلامی به شما هموطنان عزیز، استادان گرامی و شاگردان، منسوبان معارف و رهروان علم و معرفت تبریک و تهنیت عرض میدارم.

همانطوریکه ماه مبارک صیام ماه، رحمت، مغفرت و نجات از آتش دوزخ است، عید سعید فطر نیز بهانه یی برای خوشی، اخوت اسلامی و زیست باهمی می باشد.

بجا میدانم تا درین روز پرمیمنت با تضرع دست بنده گی به درگاه پروردگار عظیم الشان خویش بلند نموده تا روز های عید و سایر روز ها و سال های پیشرو را برای هموطنان داغدیده ما ، مملو از خوشی داشته و خداوند منان صلح و آرامش را در کشور ما بر قرار نماید.

**کشور عزیز ما علی رغم داشتن دستآورد** های بزرگ در تمام عرصه ها، امید به **فردای تابناک را نوید میدهد؛ اما باز هم** جنگ خانمانسوز هر روز بهترین جوانان و **هموطنان عزیز ما را قربانی گرفته و وطن** ما در آتش جنگ می سوزد چنانچه در **ایام خجسته این عید باز هم ده ها** خانواده به خاطر شهادت و از دست دادن **عزیزان و بسته گان شان سوگوار اند**، متاسفانه شماری زیادی از اطفال **معصوم کشور ما بدون پدر عید را** خوش آمدید می گویند و تعداد زیادی **مادران با مرگ اولاد و نان آوران** فامیل شان اشک ریخته و به گلیم غم **نشسته اند.**

**این خون شهداست** که مانند شمع نه تنها جوامع اسلامی را **روشنایی بخشیده و** اسلام عزیز را زنده نگهداشته است بلکه **استقلال، عزت سربلندی** و تمام افتخارات کشورعزیز ما نیز **مدیون آن می باشد .**

هموطنان نهایت گرامی! می خواهم در این روز پر میمنت به یک موضوع اشاره نمایم و آن اینکه به فضل خداوند یکتا همین اکنون در سراسر کشور (۱۷۶۰۰) باب مرکز تعلیمی و تربیتی به شمول مدارس دینی فعال بوده که اضافه از ۹ میلیون فرزند ما اعم از دختر و پسر در این مراکز مصروف آموزش می باشند. این حالت ما را امید وار می سازد که به یاری و استعانت خداوند عزوجل نسل های آینده ما بایک قوت واحد، افغانستان را در جهت پیشرفت، ترقی و صلح پایدار سوق خواهد داد.

معلمان گرامی و شاگردان...

ص۲

## افتتاح تعمیر دو باب مکتب در ولایت جوزجان

تعمیرهای جدید مکاتب جنرال عبدالرشید دوستم و نسوان ولسوالی آقچه ولایت جوزجان افتتاح و به بهره برداری سپرده شد

سایر ملحقات ضروری میباشد.با افتتاح تعمیر های متذکره مشکل بیش از ۲۰۰۰ تن شاگردان از ناحیه نبود تعمیر مرفوع گردید.



.تعمیر های متذکره بصورت پخته و اساسی در دو طبقه از بودجه انکشافی وزارت معارف به ارزش بیش از ۳۱ میلیون افغانی در مدت یکسال اعمار گردیده که هر تعمیر دارای ۸ صنف درسی، ۲ اتاق اداری، ۴ غرفه تشناب و

در مراسمی که به همین مناسبت در محوطه مکاتب متذکره تدویر گردیده بود محترم عبدالحی یشین رییس معارف آنولایت تعدادی از منسوبین ادارات دولتی، متنفذین قومی، استادان و شاگردان حضور داشتند.

## پکتیا کې د ګل غونډۍ لیسې لپاره د ودانۍ د جوړولو چارې پیل شوې

د پکتیا ولایت د ځاځي آریوب ولسوالۍ دګل غونډۍ د نجونوعالي لیسې د نوې ودانۍ د جوړولو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې.د یاد ښوونځي نوې ودانۍ په پاخه او اساسي ډول په دوو پوړونو کې د پوهنې ریاست او د سیمې د قومي مخورو په ګډه همکارۍ د آریوب خیریه انکشافي بنسټ په مالي مرسته جوړیږي، چې شاوخوا ۱۵ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي.

دا ودانۍ به۱۰ درسي ټولګي، ۳ اداري خوني او نورې اړینې ښوونیزې آسانتیاوې ولري .



## ستاره های قران و سیرت النبی صلی الله علیه وسلم از میان شاگردان مکاتب شهر کابل برگزیده شدند

ص۲



## د پوهنې وزارت د ظرفیت لوړولو روزنیز مرکز پرانېستل شو

ص۲



## لوګر کې د پوهنې نظام په ملاتړ لویه غونډه جوړه شوه

ص۲

## بادغیس کې ترلي دوه بابه ښوونځي پرانېستل شول

د بادغیس ولایت د مقر او آبکمري ولسوالیو کې له تیرو څو کلونو راهیسې ترلي دوه بابه لومړني ښوونځي د زده کوونکو پرمخ پرانېستل شول.په پرانېستل شویو ښوونځیو کې د مقر ولسوالۍ د توره شیخ لومړنی ښوونځی او د آبکمري ولسوالۍ د کوچي کلالي لومړنی ښوونځی شامل دي .ددغو ښوونځیو له پرانېسو سره د یادو سیمو څه باندې ۴۰۰ تنه زده کوونکو ته د بیا زده کړو زمینه برابره شوې ده.یاد ښوونځي د پوهنې د ولایتي مسوولینو، د سیمې قومي مشرانو او د ښوونځیو شوراګانو په هلو ځلو بېرته پرانېستل شوي دي. قومي مشرانو د یاد ولایت د پوهنې ریاست ته د ښوونځیو د فعاله ساتلو لیکلی ضمانت ورکړی او ژمنه یې کړې، چې په دې برخه کې به هر ډول مرسته او همکاري کوي.د بادغیس د پوهنې ریاست د یادو ښوونځیو په بیا پرانېستو کې د ښوونځیو د اداري شوراګانو او د سیمې د قومي مشرانو د هلو ځلو ستاینه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې اولادونو ته به یې د باکیفیته ښوونیزو خدمتونو د سرته رسولو په برخه کې له هیڅ ډول هڅو دریغ ونکړي.

# اختره راشه

راشه اختره وچوشونډوته مسکا راوله
دبڼ ګلانو ته بلبلې په نخا راوله
مرور وروڼه کړه پخلا غیږ کې یې ټینګ ونیسه
جنګونه ختم کړه نورسوله هره خوا راوله
مور ته کتاب، قلم ډالی کړه د ټوپک په عوض
زمور غزل هیواد ته خو رڼا راوله
تیارې کړه ورکې ظلم ورک کړه محبت غواړومور
د پاکوهیلو کاروانو ته موسبا راوله
زیری خوشته دی کله پال هم په رښتیا بدلیږي
حفیظ ملیاره نیک اختر خودې الله راوله

رالیږونکی: احمد عزیر

# جلوهٔ عید

جلوهٔ عید به حسن مه نودیدم دوش
مرغ شب راهمه شب تا به سحربود خروش
مطرب شهرنوای همگانی بنواخت
شادی وهلهلهٔ عید رسید گوش به گوش
مومنان را زفیوض رمضان وطاعت
مژدهٔ لطف خدا داد به هرگوش سروش
مومنان هرسوبیاراست دروخانهٔ خویش
دشمن ودوست نگردرمسجد دوشادوش

ارسالی: محمد عباس

# موري موري

موري موري تږی یم په لپه کې اوبه راکړه
زړه دې رانه وړی دی بې زړه یمه لږ زړه راکړه
بیا درته ماشوم شومه نکریزې مې په لاس کېږده
خوله زما ترخه ده هله یو موټی خواږه راکړه
ما د ژوند په لوبه کې ګړیوان تر لمن وشلاوه
تار په ستن کې واچوه تنهی د ګریوانه راکړه
غره ته یم راغلی چې د غم په لوی زړه وژاړم
ډنډ مې د زړه ډب دی د رڼو اوښکو ویاله راکړه
سرته مې زنګون کېږده ویښتو کې مې وهه ګوتې
خوب نه راځی، خوب راوله، خوب کې الوته راکړه

رالیږونکی: زبیر

# عید مبارک

صبح نشاط دم زد، فیض سحر مبارک
عیش صبوح مستان، بریکدیگر مبارک
عید گشاد ابرو ،بربست رخت روزه
این را حضر خجسته ،آن را سفر مبارک
تیغ هلال شوال،باز از افق علم شد
ماه صیام بشکست فتح و ظفر مبارک
وقت سحر مؤذن آهنگ عیش بر داشت
بر گوش روزه داران ، این خوش خبر مبارک
انجام خیر دارد، فکر شراب و ساقی
بحث فقیه و زاهد بر خیر وشرمبارک
طبع حکیم و صوفی هر کس به طالعی زد
این راست نفع میمون آن را ضرر مبارک

ارسالی: جبار

# مادر

مادر را مهربانی تعریف کردم اما تعریفی ناقص بود.
مادر را ایثار تعریف کردم اما ناقص بود.مادر را صبور نام نهادم اما ناقص بود.
مادر را زیبایی معنی کردم باز هم ناقص بود.مادر را محبت تعریف نمودم ناقص بود.
مادر را بخشنده معنی کردم اما ناقص بود.و مادر را عشق تعریف کردم اما باز...
می ترسم برای دیدارم از بهشت به جهنم آید مادر است دیگر
زندگی من بر سه اصل استوار است،نگاه مادرم،لبخند مادرم ودعای مادرم
بعضی وقت ها دروغ خوب است به مادر کم طاقت باید دروغ گفت باید برایش بگویی حالم خوب است، غذا خوب است، هوا خوب است،دل ما خوش است، وقتی مادر خوب باشد همه چیز خوب است.
اگر چهار تکه نان خوشمزه باشد و شما پنج تن باشید کسی که اصلا از مزه آن نان خوشش نمی آید مادر است...
یکی برایم گفت میخواهی بری بهشت؟ گفتم نه! آنجا فقط جای مادراست گفت:مگر نمیخواهی کنار مادرت باشی؟گفتم:نی دگه! این دنیا را ازش گرفتم جوا نی و روزهای خوش اش را برایم گذاشت پیر شد تا من جوان شوم زشت شد تا من مقبول باشم غصه خورد تا من بخندم کهنه پوشید تا من نو بپوشم گرسنه خوابید تا من حسرت چیزی را نخورم دیگر نمیخواهم در بهشت هم روز شب به فکر من باشد بگذار حداقل آنجا برا ی خودش راحت زندگی کند.

ارسالی: حسیبا سنگین

# تصویر گل

در دنیا دو تصویر برای من زیباست، تصویر گل و تصویر مادرم.
تار و پود روح مادر را از مهربانی بافته اند
استوارتر از همه پیوندها، پیوندی است که در میان مادر و فرزند برقرار است.
یک مادر خوب به صد استاد و آموزگار می‌ارزد.
وقتی مادر باشد، هیچوقت در افکارتان تنها نیستید. هر مادر درباره هر چیز دو بار فکر می‌کند، یک بار برای خودش و یک بار برای فرزندش .
استوارتر از همه پیوندها، پیوندی است که در میان مادر و فرزند برقرار است

ارسالی: دنیا

# اختریزې لنډۍ

اختره ژر ژر را رسیږه ــــ زما دیار وعده اختر دی رابه شینه
که په اختر کې ته رانغلې ــــ زه به په سرو لاسو د چا غیږې ته ځمه
یار مې اختر کې مسافر دی ــــ زه په نکریزو دیوالونه رنګومه
ته د اختر په سهار راشه ــــ په سرو لاسو به سلامی ولاړه یمه
په اختر ډیر مه راته ګوره ــــ مور می میره ده په ما کلی خبروینه
اختر د کومې کوڅې راغی ــــ ور سره نشته په نکریزو سره لاسونه
ستا د اختر مبارکۍ ته ــــ زه به په تور پیکي کي سره ګلونه ږدمه
نکریزې لږ غوندی لمدې کړه ــــ زه می پر لپو د لالي نوم رسمومه
رنګ د نکریزو جنتی دی ــــ په سرو لاسونو تور اوربل شانه کومه

رالیږونکی: نجیم

# بار غربت

به عمری بارغربت ها کشیدن
به دشت نامرادی ها دویدن
میان گریه ها درخواب رفتن
زخواب غربت ازوحشت پریدن
به ناکامی ازاین دنیا گذشتن
همه عمرازندامت لب گزیدن
به کنج بی کسی تنها نشستن
اجل راپیش چشم خود دیدن
بسی سخت است وزین هاجانگدازتر
صدای گریه مادرشنیدن

ارسالی: حمید

# بهشت

آبروی اهل دل ازخاک پای مادر است
هرچه دارد این جماعت ازدعای مادراست
آن بهشتی که قرآن میکند توصیف آن
صاحب قرآن بگفتا زیر پای مادراست

ارسالی: ولوله

# اتل

پیغله پښتنه یم په غیرت کې میړنی یمه
لور د احمد شاه او کشره خور د ملالۍ یمه
ما په هر میدان تل د خپل حق نارې وهلې دی
ځکه هر ځای یاده زه ناهید او درخانۍ یمه
زه به یې رڼا کړم خورې تا ته دا تیاره خونې
زه لویه دښمنه ستا ددغې بد مرغۍ یمه
نه پرېږدم هغه چې تا ته ګورې تل په بد نظر
مورې زه طوطی نه ستا دکور یوه مرغۍ یمه
ستا دهرې اوښکې انتقام به په خپل لاس اخلم
زه ستا دې غمو ته یو ښه زیری دخوښۍ یمه
زه به دی له وچو شونډو واخلم دا دغم ساندې
ستا د کور په وره کې یوه سندره د خو ښۍ یمه
ستا د کور تیاره آسمان به زه کړمه رو ښانه بیا
وګوره ولاړه ستا د کور پر سر سپوږمۍ یمه
نن مې دی ګټلی د قلم په زور همدا مډال
پلاره ستا په کور لویه ستا لور زه یوسفزی یمه
)مینه)دی بریاوې له دربار د پاک الله(ج) غواړی
ستا په بریا خوښه یوه پردیسه توتکۍ یمه

رالیږونکې: رساله

Weekly
Marif
Newspaper

Established 2002, Issue No 233, Month - Jun 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# آغاز استخدام معلمان حق الزحمه یی در ولایت جوزجان



به اساس هدایت رهبری وزارت معارف و به خاطر رفع کمبود معلم در ولایت جوزجان ، اینک امتحان رقابتی استخدام ۳۵۰ تن معلم حق الزحمه یی برای مکاتب این ولایت آغاز گردید.

در این امتحان به تعداد صدها تن به شمول خانم ها ثبت نام نموده اند، که تماماً فارغان پوهنتون ها ودارالمعلمین ها هستند که بعد از پروسه ارزیابی شفاف از ۳۵۰ تن آنها به صفت معلم برای ۷ ولسوالی سرد سیر ولایت یاد شده استخدام خواهند شد.

محترم عبدالحی یشین رییس معارف آنولایت در آغاز پروسه امتحان رقابتی گفت: که با استخدام این معلمان مشکل کمبود معلم در مکاتب این ولایت مرفوع خواهد شد.

همچنان برای مشمولان امتحان اطمینان داد که پروسه استخدام در فضای کاملا شفاف انجام می پذیرد و از هرگونه تقلب جلوگیری خواهد شد.

# د پکتیکا د محلي او چټکو زده کړو ټولګیو ښوونکو ته ورکشاپ جوړ شو

په پکتیکا ولایت کې د یونسف موسسې اړوند د محلي او چټکو زده کړو ۱۱۶ تنو نویو ګمارل شویو ښوونکو ته ۱۴ ورځنی روزنیز ورکشاپ جوړ شو. په دې ورکشاپ کې ګډونوالو ښوونکو ته د بېلابېلو ښوونیزو مېتودنو په اړه لازمه روزنه ورکول کېږي.

د یاد ولایت د پوهنې ریيس محراب الدین شفق د ورکشاپ په پرانېسته کې ښوونکي خپلو اصلي مسوولیتونه ته ځير کړل او له هغوی یې وغوښتل، چې په ورکشاپ کې زده کړې مسایل په خپلو ټولګیو کې په سمه توګه پلي او ګټه ترې واخلي.

د یادولو وړ ده، چې په پکتیکا کې ۲۰۰ د محلي زده کړو او ۸۹ د چټکو زده کړو ټولګي فعاَل دي، چې د یونسف له لوري یې ملاتړ کېږي. په یادو ټولګیو کې نژدې ۸۳۰۰ تنه زده کوونکي د ۲۹۰ تنه ښوونکو له لوري پر زده کړو بوخت دي.



# دوباب مکتب و ساختمان آمریت معارف ولایت قندهار افتتاح گردید

تعمیرهای جدید مکاتب ملالی میوندی و شهید شاه سید محمدآغا همراه با تعمیر آمریت معارف ولسوالی میوند ولایت قندهار طی محفل افتتاح وبه بهره برداری سپرده شد.



در مراسم گشایش تعمیرات مذکور ضمن حضور محترم عبدالقادر پیوستون رییس معارف ولایت قندهار، محترم عبدالحنان منیب معاون مقام ولایت قندهار ، شماری از ریش سفیدان و شخصیت های قومی ، استادان و شاگردان نیز اشتراک داشتند.محترم رییس معارف اعمار تعمیرهای متذکره را در بهبود وضعیت تدریسی برای شاگردان سودمند دانسته در راستای تقویه معارف وعده هرگونه همکاری را سپردند و هم از مردم خواست تا در زمینه غنا مندی معارف همکاری جدی نمایند.

متعاقباً محترم معاون والی نیز علاوه از ابراز همکاری روند معارف رادرآن ولایت ستایش نموده و در زمینه به حمایت مقام ولایت از معارف تاکید نمودند.گفتنی است که تعمیر امریت معارف دا رای ۱۲ اتاق وابتدائیه ملالی میوندی ۷ صنف درسی و متوسطه سید محمد آغا دارای ۹ صنف درسی بوده که تمام ضروریات را دارند.

تعمیر های مذکور جمعآ ۱۱,۴ میلیون افغانی هزینه برداشته که از سوی وزارت احیا و نکشاف دهات طی ده ماه کاری اعمار شده است.

# آموزش سواد ، راه به سوی ترقی

عبدالصبور غفرانی

باتأسف افغانستان یکی از کشورها ئیست که بیشترین گراف بی سوادی را در میان مردمان جهان داراست و بر وفق احصائیه های گرفته شده طی سال ۲۰۱۱-۲۰۱۲ میلادی حدود ۳۱,۴ در صد از بزرگسالان یعنی از سن ۱۵ سال به بالا باسواد اند که آنهم در میان زنان آمار با سوادان پائین می با شد.



بادر نظرداشت این معضل و حل آن، معینیت سواد آموزی در حمایت از وزارت معارف و دولت جمهوری اسلامی افغانستان کما کان کوشیده تا بی سوادی را که مانع ترقی و پیشرفت جامعه می شود در کشور محو و ریشه کن سازد که منحیث یک اولویت عاجل شامل پلان استراتیرک ملی معارف افغانستان گردیده و غرض امحای کلی آن تدابیر لازم و عملی گرفته شده است .

یکی از این اقدامات که به منظور بلند بردن سطح سواد در میان بی سوادان اتخاذ گردید طرح "سواد برای توانمندی " را با حمایت و رهبری دفتر یونسکو در کابل تصویب و به منصه اجراء قرار داد که با کمک مالی و تخنیکی جاپان ، موسسه یونسکو همراه با وزارت معارف افغانستان کار آن آغاز گردید.

گرچه هدف از سواد آموزی همانا خواندن ، نوشتن و حساب کردن است ، اما آموزش حرفه و مهارت های مسلکی برای بزرگسالان نیز در جنب آموزش سواد ، برای فراگیر آن در ۳۴ ولایت در نظر گرفته شده است که یکی از اهداف این طرح بهبود وضعیت مالی و اقتصادی خانواده ها نیز می باشد.علاوتاً طی این برنامه نصاب تعلیمی سواد آموزی تجدید نظر گردیده و هم چنان کارمندان معینیت سواد آموزی در بخش های مختلف از قبیل نظارت و ار زیابی از شیوه های تدریس معلمان ، انکشاف نصاب تعلیمی و غیره نیز آموزش های لازمی را طی سیمینار ها و ورکشاپ ها فراگرفتند .سواد آموزان ضمن اینکه دراین کورسهای سواد آموزی ، سواد می آموزاند ، بلکه مهارت های را نیز فرامی گیرند که از آن طریق می توانند بواسطه آن امرار معاش نموده و در رونق بخشی از اقتصاد جامعه نیز نقش ارزنده یی را ایفا نمایند.هم چنان آنها با ایجاد شاپ های تولیدی در آینده می توانند مسبب اشتغال زایی در کشور شده و شماری از دیگر جوانان ما را به غرض انجام امور تولیدی شان به کار گاه های خویش استخدام نمایند .

قابل یاد دهانی است که همچو برنامه را از چند سال بدین سو فدراسیون ملی یونسکوی جاپان نیز در چوکات ایجاد مراکز آموزش محلی یا (CLC) در تعدادی از ولسوالی های کابل و هم چنان در چند ولایت رویدست گرفته که نه تنها سوادآموزان در این مراکز، آموزش های خواندن و نوشتن را می بینند بلکه یکی از حرفه ها و مهارت ها را بر حسب ضرورت های بازار کار ولایت مربوطه منطقه خویش نیز می آموزند که فارغان این مرکز ها می توانند در ختم دوره آموزشی بر علاوه اینکه ، باسواد می شوند ، بلکه دارای مهارت های مسلکی و تخنیکی نیز شده و می توانند از طریق به کار گیری این مهارت ها اقتصاد خانوادگی خویش را رونق بخشند .

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د
د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت